Women's Peace & Humanitarian Fund

A United Nations & Civil Society Partnership

# د شاخص بنوون پانه
## د WPHF د اغیزو سیمه 3: بشردوستانه غبرګون

لاندې بنوون پانه د WPHF مرستې کونکو ته د اړتیا وړ شاخصونو په اړه لاربنوونه وړاندې کوې چې د WPHF اغیزې 3 سیمې لپاره کارول کیږي: بشردوستانه غبرګون. دا نور وړاندیز شوي شاخصونه هم وړاندې کوي او د شاخصونو، اساساتو، او موخو، او د تایید وسیلو[1] کارولو په اړه ځینې عمومي لارلیکي وړاندې کوي.

### د پایلو چوکاټ

دا د تاثیر بیان دی: ***د بشردوستانه پلان جوړوني او ځواب ویلو کې د میرمنو زیات کړ شوی ګډون او مشرتابه***

پکار ده چې تاسو دا بیان د اغیزي په کچه وکاروئ او له فهرست څخه د اړتیا وړ شاخصونو غوره کړئ (په راتلونکي برخې کې تعریفونه وګورئ). پکار ده چې تاسو د خپلو پایلو بیان (بیانونه)، د ترلاسه شوی بیان (بیانونه) او شاخصونه[2] هم په خپلو پروژو پورې اړوند جوړ کړئ.

| متوقع پایلي | شاخصونه | د تایید وسیلي/سرچینې | چارې | بودیجه |
|---|---|---|---|---|
| **اغیزه**<br>د بشردوستانه پلان جوړوني او غبرګون بنودلو په برخه کې د ښځو ګډون او رهبري[3] | کم تر کم یو یکښي غوره کړئ (1):<br>3.1. د هغو ښځو شمیر/سلنه چې د بشري پلان جوړوني او غبرګون په پریکړه کولو کې برخه اخلي<br>3.2. د میکانیزمونو دولونه چې د جنسیتی غبرګون بنودونکی بشري پلان جوړوني، چوکاټونو او پروګرامونو د بنه کولو لپاره رغول شوي وي | د اسنادو له سره کتنه یا سروې<br><br>د اسنادو بیاکتنه، مرکې یا مشاهده | | |
| **پایله (پایلې)[4]**<br>د خپلې پروژې پراساس د پایلو بیان (بیانونه) وړاندې کړئ. | د پایلو په کچه د لاسرسي دواړه شاخصونه شامل کړئ:<br><br>R1. د هغو خلکو شمیر چې په مستقیمه توګه د غبرګون څخه ګټه اخلي(د جنسیت، عمر ګروپ، یا نورو متغیرونو له مخې[5])<br><br>R2. د هغو کسانو شمیر چې په غیر مستقیمه توګه د غبرګون څخه ګټه ترلاسه کوي<br><br>او د هرې پایلي لپاره 1-2 اضافي شاخصونه وړاندې کړئ چې ستاسو د پروژې بدلون په بر کښي نیسي | د اسنادو بیاکتنه/ د ګډونوالو فهرست<br><br>د اسنادو بیاکتنه/تخمین[6]<br><br>د ګرانټي یعني مرستي کونکي لخوا به تاکل کیږي | | |
| **محصول (محصولات)[7]** | د هر محصول لپاره 1-2 شاخصونه جوړ | د هر شاخص لپاره به د | | |

[1] د څارنې او ارزونې یو جلا لاربښود به ټولو مرسته کونکو لره تیار کړل شي کوم چې د څارنې او ارزونې طریقې په هلکه ډیرې ژورې تخنیکي لاربښوونې برابروي، په ګډون د پایلو چوکاټ د جوړولو د طریقې.

[2] ستاسو د پایلو په چوکاټ کې باید د څومراه والي او څرنګوالي د شاخصونو ترمنځ توازن وي. د څرنګوالی شاخصونه تاسو ته اجازه درکوي چې د افرادو او ډلو تجربې، نظرونه او پوهه په ژوره توګه څیړئ او د "څنګه" او "ولې" بدلونونو په تشریح کولو کې مرسته درسره کوي.

[3] **اغیزې** د پروژې هغه اوږدمهاله بدلون وي چې تمه کیږي د پایلو د لاسته راوړلو په پایله کې وړاندی شي. داسی نه ده چې بدلون باید په ملي کچه رامنځ ته شي. د اغیز اټکل په تاسو پورې اړه لري.

[4] **پایلې** هغه منځمهاله بدلونونه وي چې تمه کیږي د مکمل شویو محصولاتو له امله رامنځته شي. تاسو کولای شئ یوه یا څو پایلې ترلاسه کړئ. زیات تر زیاته 2 پایلې یو ښه قاعده ده. د پایلې بیان یوه بیلګه "د ښځو د مخنیوي میکانیزمونو پلي کولو کې د سیمه ایزو شریکانو د همغږۍ زیاتوالی دی..”

[5] نور متغیرات (یا **بېلتون**) کې د اړتیا په صورت کې معلولیت، بې ځایه شوي یا کډوال، د ښځو په مشرۍ کورنۍ او نور شامل دي..

[6] د غیر مستقیمي ګټه اخیستونکي تعریف وګورئ.

[7] **محصول** د وېشلو وړ کلک یعنی کانکریټ وي، هغه محصول یا خدمت چې د پلي شوي فعالیتونو په پایله کې چمتو کیږي. د محصول بیان یوه بیلګه دا ده: "د بشري ناورین پرمهال د ښځو او انجونو لپاره د خدماتو د موجودیت په اړه معلوماتو ته د لاسرسی چمتو کېدل".

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د هرې پايلې لپاره د محصولاتو سيټ تيار کړئ. | کړئ | ګرانټي يعنې مرسته ورکونکي لخوا ټاکل کيږي | | |

## ضروري شاخصونه

د WPHF ګرانټيز يعنی مرستندويانو په توګه، تاسو ته لازمه ده چې د معياري شاخصونو يوه ټولګه وکاروئ (جدول 1 وګورئ) چې د جهاني راپور ورکولو او ستاسو د پروژو د اغيزو او لاسرسي بيانولو کښې اسانتيا راولي.

له همدې امله، تاسو بايد غوره کړئ:

- ☐ **کم تر کمه يو** د اغيزې کچې شاخصونه؛ او
- ☐ **دواړه** د لاسرسي شاخصونه (مستقيم او غير مستقيم ګټه اخيستونکي)

تاسو اضافي شاخصونه اضافه کولای شئ، لکه څنګه چې ستاسو په پروژې پورې اړوند وي. يو ښه قاعده دا ده چې د هرې پايلې او محصول بيان تر درېو (3) شاخصونو زيات نه وي.

### جدول 1: د شاخص تعريفونه (ضروري شاخصونه)

| ضروری شاخصونه | تعريفونه |
|---|---|
| **د اغيزې شاخص 3.1**<br>د هغو ښځو شمير/فيصدي چې د بشري پلان جوړوني او غبرګون په پريکړه کولو کښې ګډون کوي | دا يو د خومره والي شاخص دی چې د هغو ښځو ټول شمير کښي چې په فعاله توګه د پريکړې کولو ادارو، د ټولني کميټو يا ميکانيزمونو يا نورو ځايونو کې ګډون کوي چيرې چې ښځې نظر ځرګندولای شي او په خپلوټولنو، ولسواليو سيمي يا هيواد کې د غبرګون او بيا رغوني پر پريکړو اغيزه کولای شي..<br>په پريکړه کولو کې ګډون يوازې د پريکړې کولو په ارګان يا کميټه کې د يوې ميرمنې فزيکي موجوديت پورې محدوده نه وي، بلکې دا چې ميرمنې کولای شي چې خپلې انديښني ځرګندې کړي، په پريکړه يا پروسې اغيزه وکړي، يا په پريکړه کې رايه ورکړي.<br>تاسو بايد د ښځو ټوله 'شميره' راپور کړئ او د 'فيصدئ' واحد کارولو ته اړتيا نهٔ لري. که تاسو غواړئ يوه فيصدي چمتو کړئ نو، د شميرې سربيره، دا د سروې شويو ميرمنو پر ټول شمير باندي تقسيمېږي چې په پريکړه کولو کې په فعاله توګه ګډون کوي. د بېلګې په توګه، 50٪ (50 له 100 ميرمنو ځخه).<br>دغه شاخص پکار دی چې پر جنس او عمر ګروپ (تر 18 کالو زيات او تر 18 کلونو کم) سره جلا شي، هرکله چې داسې امکان ولري. |
| **د اغيزې شاخص 3.2**<br>د ميکانيزم ډولونه چې د جنسيت غبرګون ښودونکي بشري پلان جوړوني، چوکاټونو او پروګرامونو د ښه کولو لپاره رامينځته شوي وي | دا يو د ځرنګوالي يعنې شاخص دی او هغه مختلف ميکانيزمونه يا پروسې تشريح کوي چې ستاسو د سازمان يا نورو لخوا د بشردوستانه پلان جوړوني او غبرګون ښه کولو لپاره رامينځته شوي وي، او کوم چې د ښځو او نجونو اړتياوو او لومړيتوبونو ته ځواب ويونکي وي.<br>د ميکانيزم په ځينو بېلګو کښې دا خبرې شاملې دي:<br>• د ټولنې رغښتونه چې د کړکيچ په پلان جوړولو يا غبرګون کې شامل وي<br>• د کورنيو لپاره د بيړني بسپنې پروسې<br>• ګډ کاري ځواکونه<br>• د څارنې يا فيډبيک سيستمونه.<br>• د پلان جوړوني اسناد يا کړنلارې چې د بشري ناورين په وړاندې چټک غبرګون په ګوته کوي<br>• هغه چوکاټونه چې د بحران په وخت کې د ښځو او نجونو ځانګړو اړتياوو ته غبرګون ورښيي<br>• د جندر يعني جنسيت پر بنسټ شننه ميکانيزمونه او د شرايطو او بحران پراساس توپير کوي. |
| <u>دواړه</u> **ځېرنيز شاخصونه وکاروئ. د خپل لاسرسي شاخصونه د پايلې پر کچې باندې کښېږدئ.** | |
| **د لاسرسي شاخص 1:** د هغو خلکو شمير چې په مستقيمه توګه له غبرګون ځخه ګټه پورته کوي | دا مستقيمه ګټه اخيستونکي هغو اشخاصو، ډلو يا سازمانونو ته اشاره کوي، څوک چې ستاسو له مداخلې ځخه مستقيمه ګټه اخلي، يا ستاسو له فعاليتونو ځخه مستقيم ترلاسه کونکي دي او د پايلو چوکاټ کې د محصول او پايلو بياناتو کې په واضح ډول بيان شوي |

| | |
|---|---|
| (د جنسیت، عمر ګروپ، یا نورو متغیرونو له مخې) | وي. مستقیم ګټه اخیستونکي او هدف لرونکي ګروپونه یو شان دي.<br>مستقیم ګټه اخیستونکي باید د جنس او عمر ګروپ (تر 18 کالو کم او تر 18 کالو زیات عمر) له مخې سره جلا شي. که اړتیا وي نو نور توپیرونه شامل کېدلای شي (د بیلګې په توګه معلولیت، بې ځایه شوي، کډوال یا د کوربه ټولنې غړي، هغه کورنۍ چې مشرۍ یې میرمنې وي، برخه اخیستونکي، او نور). |
| **د لاسرسي شاخص2:** د هغو خلکو شمیر چې په غیر مستقیمه توګه له غبرګون څخه ګټه اخلي | هغو غیر مستقیم ګټه اخیستونکي اشخاصو، ډلو یا سازمانونو ته اشاره کوي څوک چې ستاسو د مداخلو مستقیم هدف نه وي لکه څنګه چې د پایلو په چوکاټ کې بیان شوي مګر په غیر مستقیمه توګه ستاسو د فعالیتونو له لارې اغیزمن شوي وي. دوی کېدلای شي د ټولنې نور غړي وي، یا د کورنۍ هغه غړي وي چې د مستقیم ګټه اخیستونکي ګڼون له مداخلو څخه مثبته ګټه اخلي.<br>د غیر مستقیم ګټه اخیستونکو محاسبه معمولا د اوسط کورنۍ اندازې په اخیستلو او ستاسو د مستقیم ګټه اخیستونکو ته په ضرب ورکولو سره ترسره کیږي. دا ممکن غبرګه شمیرنه رامینځته کړي ، نوځکه خو د کوچني اوسط اندازې کارول به ښه وي. د بېلګې په توګه، که د کورنۍ اوسط اندازه 5 وي او مستقیم ګټه اخیستونکي 100 وي، نو تاسو به داسې ضرب ورکړئ 500 = 100 x 5.<br>غیر مستقیم ګټه اخیستونکي ضروري نه ده چې سره جلا شي. |

## د پایلو نور وړاندیز کړل شوي شاخصونه

د پایلو لاندې شاخصونه فقط هغه وړاندیزونه دي چې له تاسو سره په لاربنوونې کښې مرسته کوي کله چې ستاسو شاخصونه د پایلو د کچې لپاره تعریفوي. دا لازمي نهٔ دي.

| د پایلو وړاندیز کړ شوي شاخصونه | تعریفونه |
|---|---|
| د CSOs شمیر چې د بشري پلان جوړونې، غبرګون، او د مرستې هڅو کې په اغیزمنه توګه د مرستې لپاره د ظرفیت لوړولو لپاره ملاتړ کړی / چمتو کړی وي | دا یو د څومره والي شاخص دی چې د CSOs ټول شمیر ګڼي کوم چې چمتو شوی وي یا په مستقیمه توګه ملاتړ شوی وي، یا ستاسو د سازمان یا شریکانو د ظرفیت لوړول.<br><br>د بشردوستانه یا کړکیچ غبرګون او/یا بیا رغونې په ظرفیت لوړولو کښې شامل دي هغه روزنه، لاربنوونې یا رسمي روزنه چې CSO یې ستاسو د سازمان یا ستاسو پلي کونکو شریکانو څخه د پروژې په جریان کې ترلاسه کوي. په موضوع ګانو کښې په ځانګړې توګه د بشردوستانه او کړکیچ غبرګون کې د ښځو مشرتابه لپاره د مهارتونو او پوهې په جوړولو تمرکز کیږي، یا نورې داسې روزنې چې ممکن ښځې وکولای شي په بشري کړکیچ او غبرګون کې په فعاله توګه برخه واخلي.<br>د CSOs د برخه اخیستونکو شمیر وشمیرئ او نه د پروژې په جریان کې چمتو شوي روزنیز شمیر. کېدلای شي تاسو د هغو ګډون کونکو شمیر هم تعقیب کړئ چې ملاتړ ترلاسه کوي.<br>هرچیرې چې د تطبیق وړ وي، شاخص د سازمان له ډول سره سم یوله بله سره جلا کړئ. د بیلګې په توګه، د ښځو په مشرۍ سازمان، د ځوانانو په مشرۍ سازمان، پر معلولیت بناندې متمرکز سازمان، یا د سازمانونو نور ډولونه. |
| د ښځو تر مشرۍ لاندې د ایډووکېسي کمپاینونو شمیر/ډول، د ټولنې خبرې اترې، یا د پوهاوي کمپاینونه چې د بشردوستانه غبرګون په اړه د پوهاوي لوړولو لپاره تنظیم شوي وي. | دا د څومره والي او د څرنګوالي دواړو یو شاخص دی او شمیره ګڼي او د ایډووکېسي کمپاینونو ډول، د ټولنې ډیالوګ بیانوی، په اوسنی بشردوستانه بحران (د COVID-19 وبا په شمول) د پوهاوي یا معلوماتو کمپاینونو یا نورو پیښو چې ستاسو د سازمان لخوا د ګټه اخیستونکو او/یا ټولنو او نورو شریکانو سره د پوهاوي لوړولو لپاره تنظیم شوي وي. |
| د ښځو د شبکو یا اتحادیو شمیر چې د بشردوستانه غبرګون، بیا رغونې او پلان جوړولو کې همکاري کوي | دا یو د څرنګوالي شاخص دی چې د هغو شبکو یا اتحادیو ټول شمیر ګڼي چې د بشردوستانه غبرګون، بیا رغونې، پلان جوړونې، یا د بشري بحران اغیزو سره د یوځای کېدلو او همغږي کولو لپاره مل کیږي، په شمول د COVID-19 وبا (د بیلګې په توګه د وبا په وخت کې د ښځو پروړاندې تاوتریخوالی) ). شبکې او اتحادیې د سازمانونو یوه ډله ده. کېدلای شي ستاسو خپل سازمان د دې شبکې یا اتحادیې غړی وي. |
| د هغو ښځو، نجونو او خلکو شمیر چې د بحران له امله اغیزمن شوي وي چې په مستقیمه توګه د مدني ټولنې سازمانونو | دا یو د څومره والي شاخص دی او د ښځو او نجونو، نارینه او هلکانو ټول شمیر ګڼي چې ستاسو د سازمان یا شریکانو لخوا د بشردوستانه ناورین په جریان کې چمتو کیږي.<br><br>کېدلای شي دا ملاتړ د خدماتو یا توکو مستقیم چمتو کول وي (خواړه، نغدي پیسې، |

| | |
|---|---|
| نوښتونو لخوا ورسره ملاتړ کیږي | سامانونه، د روغتیا محصولات، توکي، او نور)، سرپناه، یا هر هغه شی چې په خلکو باندې د بشري بحران منفي اغیزه راکموي.<br><br>شاخص باید د جنس او عمر ګروپ (تر 18 کالو کم عمر او تر 18 کالو لوی) له مخې سره جلا شي، چیرې چې امکان ولري. |
| د ټولنیزو رسنیو د تاثیراتو او / یا کمپاینونو شمیر چې خلکو لیدلي وي (FB، ویب پاڼه، راډیو، ټویټر، ویبینارونه، او نور) | دا یو د ځومره والي شاخص دی چې د ټولنیزو رسنیو کلیکونو او/یا د کمپاینونو له لارې د خلکو شمیر راټولوي. کېدلای شي د ټولنیزو رسنیو لپاره، پدې کې د ویب سایټونو شمیر، د فیسبوک لیدنې، د واټس اپ پیغامونه، راډیويي ناستې، ټویټونه، ویبینارونه، او داسې نور شامل وي کومو ته چې په انفرادي ډول لاسرسی شوی وي، او کوم چې ستاسو د سازمان یا تطبیق کونکي ملګري لخوا رامینځته شوي یا ملاتړ شوي وي.<br><br>دا شاخص د ټولنیزو رسنیو له لارې د مختلف کمپاینونو شمیر هم په بر کښې نیسي چې د خلکو لخوا ورته لاسرسی شوی وي یا کتل شوي وي. د راډیو پروګرامونو لپاره، مهرباني وکړئ د راډیو سټیشن د معلوماتو پراساس د پیغامونو له لارې اټکل شوي خلک مشخص کړئ. |
| د ښځو تر مشرۍ لاندې کورنیو شمیر (یا میرمنې) چې د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره نغدي پیسي، خواړه، یا نور توکي ورته چمتو کیږي | دا یو د ځومره والي شاخص دی چې د ښځو تر مشرۍ لاندې کورنیو مجموعه (یا میرمنې) په بر کښې نیسي چې په مستقیمه توګه د نغدو پیسو لیږد، د خوړو مرستې، د روغتیايي کڅوړې یا نور توکي ورته چمتو شوي وي چې په بشردوستانه شرایطو کې د دوی لومړني اړتیاوې پوره کړي.<br>هغه کورنۍ (یا ښځې) چې ډیرې توکي ورته چمتو شوي باید فقط یو ځل حساب شي. که چیرې مالي مرستې چمتو شي، د هرې ښځې/کورنۍ ټول تعداد او دا چې دا مرستې څنګه کارول شوي دي، پکښې شامل کړئ. |

## شاخصونه څه وي؟

شاخصونه د 'ځومره والي یا څرنګوالي یعنې کمي یا کیفیتي عواملو یا متغیرونو په توګه تعریف شوي چې د لاسته راوړنې اټکل کولو لپاره ساده او باوري وسیله راکوي، له مداخلې سره اړوند بدلونونه منعکس کړي، یا د پراختیايي فعال فعالیت ارزولو کې مرسته کوي'[8].

په ساده توګه ویلای سو، شاخصونه **'اشاري'** دي چې د ا راوښيي چې په محصولاتو کې پرمختګ شوی دی، او دا راوښیي چې بدلونونه د متوقع پایلو له لارې رامنځته شوي.

دري ډوله شاخصونه شته:

- **د محصول شاخص:** دا هغه شاخصونه دي چې د محصول د تکمیل د تعقیبولو لپاره کارول کیږي (یو چمتو کړشوی محصول یا خدمت)
- **د پایلي یا د فعالیت شاخص:** دا هغه شاخصونه دي چې د محصول د تکمیل په پایله کې د لنډ مهاله بدلونونو کچې.
- **د اغیزي شاخص:** دا هغه شاخصونه دي چې د مداخلي اوږدمهاله بدلون کچې، د محصول په پایله کې.

یو شاخص په لاندې ډول رامینځته شوی:

**د کچلو یعني اندازه کولو واحد + هغه څه چې کچل کیږي / تعقیب کیږي (د شنني واحد) + (اړونده توپیر)**

**بېلګې:**

- د هغو ښځو شمیر (یا فیصدي) چې د بشردوستانه پلان جوړوني او غبرګون په پړیکړه کولو کې برخه اخلي + (د عمر ګروپ له مخې ځله جلا شوي)
- د ښځو تر مشرۍ لاندې د ایدووکېسي کمپاینونو شمیر چې د بشردوستانه غبرګون په اړه تنظیم شوي وي + (د سیمې له مخې ځله جلا شوی)

## اساسي ارزښتونه او موخې

هر شاخص یو بنسټیز ارزښت او موخه ته اړتیا لري

[8] OECD Glossary of Key Terms in Evaluation and RBM (2002) https://www.oecd.org/dac/evaluation/2754804.pdf

یو **بنسټیز** ارزښت هغو معلوماتو ته وایي چې د پروژې په پیل کې راټول شوي وي چې د شاخص د پیل ټکي څرګندوي. د پایلو او اغیزو شاخصونو لپاره، یو بنسټیز کرښه په ړومبي ځل هغه مهال وي چې ډاټا راټولیږي. په ځینو حالاتو کې، دا په شاخص پورې اړه لري، دا ځینې وختونه صفر (0) هم کیدی شي.

*د بېلګې په توګه، د شاخص لپاره، "د هغو ښځو شمیر چې د بشري پلان جوړونې او غبرګون په پریکړه کولو کې برخه اخلي"، ستاسو د پروژې له پیل څخه مخکې کېډلای شي ستاسو د موخې د سیمې راپور کې له 50 ښځو څخه فقط 10 ښځې په غبرګون کښې ګډون وکړې. په داسې یوه حالت کښې، 10 ښځې به ستاسو بنسټ وي.*

*که چیرې له "فیصدي" څخه هم کار واخلئ (پر شمیر سربیره)، نو دا به دا مانا ولري چې 20٪ (یا له 50 ښځو څخه 10 ښځې) کېډلای شي تاسو سروې کړې وي چې د پریکړې کولو پروسو کې برخه اخلي. 20٪ (10 د 50 څخه) به ستاسو بنسټ وي.*

د محصول شاخصونو لپاره، بنسټیز ارزښت عموما صفر (0) دی ځکه چې مداخله مخکښې نه وه.

*د شاخص لپاره "د ښځو تر مشرۍ لاندې د ایډووکیسي کمپاینونو شمیر چې د بشردوستانه غبرګون په اړه تنظیم شوي وي"، ستاسو د پروژې په پیل کې کېډلای شي مخکښې هیڅ کمپاین نه وي ترسره شوی. مانا دا چې ستاسو بنسټ به 0 وي.*

**موخې** هلته وي چېرته چې تاسو غواړئ د پروژې په پای کې اوسئ. موخې باید د ریښتیانو وي او له مداخلې سره سمون ولري. ټول شاخصونه باید یوه موخه ولري. د ورته شاخص په کارولو سره، دلته یو مثال دی:

*د شاخص لپاره، "د هغو ښځو شمیر چې د بشري پلان جوړونې او غبرګون په پریکړه کولو کې برخه اخلي"، شاید تاسو احساس کوئ چې ستاسو د مداخلو له لارې به دا له 10 میرمنو څخه 40 میرمنو ته لوړ شي (په 50 کښې). 40 به ستاسو موخه وي.*

*که تاسو له "فیصدئ" څخه هم کار اخلئ، او تاسو احساس کوئ چې ستاسو مداخلې به د پرېکړې په پروسو کې د ګډون کولو لپاره د ښځو ورتیا زیاته کړي، ستاسو موخه ممکن 80٪ وي (40 له 50 څخه)*

*بله بیلګه، د "د ښځو په مشرۍ د ایډووکیسي کمپاینونو شمیر چې د بشردوستانه غبرګون په اړه تنظیم شوي وي" د شاخص په کارولو سره، ستاسو پروژه پلان لري چې د ښځو په مشرۍ د ایډووکیسي د 5 کمپاینونو ملاتړ وکړي. 5 به ستاسو موخه وي.*

## د تصدیق او سرچینو وسیلې

*د پایلو په چوکاټ کې هر شاخص د تغیر وسیلو او سرچینې ته هم اړتیا لري.*

*د تایید وسیله مانا ده چې 'څنګه' (طریقه) تاسو ډاټا راټولوئ. دا د ډاټا راغونډولو د میتودولوژي په توګه هم پیژندل کیږي. بېلګې: د اسنادو بیاکتنه، مرکې، سروې، ارزونه، مشاهده، د فوکس ګروپ مباحثه او نور.*

*یوه سرچینه دا ده چې 'چیرته' به تاسو به خپل معلومات ترلاسه کړئ. مثالونه: ملي سروې، اداری احصایې، په نخښه شوي نفوس، او داسې نور. .*